ICRC

د ۲۰۲۳ز کال له جنورۍ تر ډسمبر پورې

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمیرې



## د فزیکي بیا رغونې چوپړتیاوې

**۲۰٦،۱۲۸**
ناروغانو سره د آی سي آر سي د فزیکي بیا رغونې په ۷ مرکزونو کې مرسته شوې

**۱۸،۱۹۸**
نوي ناروغان ثبت شوي چې له ۱،۱۹۷ کسانو څخه پکې پښې او لاسونه پرې کړای شوي دي

**۳۰،۴۳۰**
پروستیز او ارتوزیس تولید شوي

**۱۴۴**
ناروغانو حرفوي زدکړې کړي

د فیض آباد د فزیکي بیارغاونې مرکز، چې د ٦۹ بسترونو وړتیا لري، د تودوښې سیستم یې ترمیم او ورته ارتقاء ورکړل شوه

**۱۳۳،۴۸۲**
فزیوتراپیکي درملنې ترسره شوي

**۵٦۲**
ناروغانو کوچني پورونه ترلاسه کړي

**۷،٦۰۰**
کورنۍ لیدنې له ۲،۵۳۴ ناروغانو څخه ترسره شوي

**۱**
نوی د فزیکي بیارغاونې مرکز چې د ٦۰ بسترونو وړتیا لري په لښکرګاه کې جوړ شو

# لومړنۍ روغتیايي پاملرنې

**۱،۲۰۲،۶۱۲** ناروغان چې اکثریت یې ښځې او کوچنیان دي، د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴۷** روغتیايي مرکزونو کې چې د آی سی آر سی له خوا یې ملاتړ کېږي، لومړنۍ روغتیايي پاملرنې ترلاسه کړي دي

**۳۱۶،۶۴۲** دوزه عادي واکسین د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴۶** ملاتړ کېدونکیو روغتیايي مرکزونو کې تطبیق شوي دي

**۱۰،۷۳۶** خوارځواکه کوچنیان د افغاني سرې میاشتې ټولنې په **۴۶** بنسټیزو روغتیايي پاملرنې کلینکونو چې د آی سی آر سی لخوا یې ملاتړ کېده، د تغذیې له پروګرامه برخمن شوي دي

**۱،۵۶۳** ناروغان په کندهار او لښکرګاه کې په لومړنیو روغتیايي پاملرنو مرکزونو کې د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ له چوپړتیاوو برخمن شوي دي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۷** او د عامې روغتیا وزارت **۲** لومړنیو روغتیايي پاملرنې مرکزونو ته ارتقاء ورکړل شوه، کاري وضعیتونو یې وده ومونده او خارج بستر ځانګو ته د ناروغانو لپاره غوره لاسرسي چمتو شو

## د روغتون پاملرنه

**۳۳** روغتونونه چې د **۷،۰۵۷** بسترونو وړتیا لري او د **۲۶** میلیونو خلکو چوپړتیا کوي، نو له جنورۍ څخه تر اپریل پورې د دوی د معاشونو او جاري لګښتونو په برخه کې ملاتړ شوی او **۱۰،۹۰۰** روغتیايي کار کوونکیو ته معاشونه ورکړل شوي دي. له روغتون څخه د ملاتړ د پروګرام د یوې برخې په توګه دا ملاتړ په تدریجي ډول له منځه تلونکی دی او تر اګست پورې به له **۲۵** روغتونونو څخه د دوی د جاري لګښتونو او معاشونو په برخه کې مالي ملاتړ او تر ډسمبر میاشتې پورې به د دوی د جاري لګښتونو په برخه کې مرستې ترسره شي

د عامې روغتیا وزارت د وینې بانک سره د **۴** موټرو بسپنه ترسره شوه، تر څو د وینې د راټولولو په فعالیتونو کې ورسره مرسته وکړي

**۱۵۰** نرسانو، ډاکترانو او قابله وو په عاجل خونه کې د ټروما د پاملرنې په برخه کې روزنه ترلاسه کړه

په میرویس حوزوي روغتون کې د روغتیايي پاملرنې **۸۰** کارمندانو په عاجله څانګه کې د ترياژ د ناروغانو په برخه کې روزنه ترلاسه کړه

**۵۰۷،۷۱۹** ناروغانو د غزني سیمه روغتون او ولایتي روغتون، د روخه ولسوالۍ روغتون او د کندهار د میرویس سیمه‌ایز روغتون په عاجله خونه کې سلامشورې ترلاسه کړي دي. له دې درې روغتونونو سره د عاجلې خونې د تجهیزاتو، میز او چوکۍ او طبي اکمالاتو په برخه کې هم مرسته وشوه. د غزني له سیمه یز روغتون سره د یوې لویې خیمې بسپنه ترسره شوه چې د ناروغانو د انتظار ځای او د بیړني ترياژ د سیمې په توګه ترې ګټنه وشي

په میرویس حوزوي روغتون کې **۳۱،۴۰۰** ښځینه ناروغانو تخصصي درملنه ترلاسه کړه او **۲۶،۷۶۲** کوچنیان پکې په بریالۍ توګه زېږېدلي دي. **۶۲۰** بستریز مرکز د برېښنا ځانګړې عاجل مزی د برېښنا له عمومي شبکې سره وصل شو او د لمریزې برېښنا پر هایبرډ سیستم هم سنبال شو ترڅو د ښه کاري حالتونو لپاره دوامداره برېښنا چمتو کړي. ښځینه انتظار ځای هم جوړ شو

د فراه ولایتي روغتون چې د **۱۲۰** بسترونو وړتیا لري، نو د اوبو رسولو سیستم یې ترمیم او ورته ارتقاء ورکړل شوه ترڅو له دوامداره اوبو رسولو څخه ډاډ ترلاسه شي

موږ د بغلان ولایتي روغتون د تودوخې سیستم د بیارغونې په برخه کې هم مالي ملاتړ چمتو کړی ترڅو د ناروغانو غوره پاملرنه پرې ترسره شي

د کابل اندرا ګاندي د کوچنیانو څانګه پر نمونیا د اخته کوچنیانو درملنه کوي.



## روغتيايي ښوونه

د غضنفر د روغتيايي علومو د انستيتوت په ۹ څانګو کې موجود **۶۰۸** کارمندانو ته له ۲۰۲۳م کال له جنورۍ څخه تر اګست میاشت پورې معاشونه ورکړل شوي تر څو د نرسانو، قابله وو او روغتيايي تکنيشنانو د روزنې تداوم ډاډمن شي. موږ له جنورۍ څخه تر دسمبر پورې د دوی د جاري لګښتونو په برخه کې هم مرستې ترسره کړي دي

**۴،۳۴۸** زده کړيالانو د غضنفر د روغتيايي علومو د انستيتوت په ۹ څانګو کې په هغو روزنيزو تخنيکي پروګرامونو کې نوملیکنه وکړه چې د آی سي آر سی لخوا يې ملاتړ کېده. په ۲۰۲۳ کې **۹۰۶** زده کړيالان (**۵۰۴** نارينه او **۴۰۲** ښځينه زده کړيالانې) فارغ شوي

## لومړنۍ مرستې

د حکومت **۵۳۲** امنيتي ځواکونو ته په بېلابېلو ولايتونو کې د **۳۴** ښستيزو لومړنيو مرستو د روزنې د ناستو له لارې روزنه ورکړل شوه او د لومړنيو مرستو **۵۲۶** کڅوړې وروسپارل شوي

## عاجل اقدام

له هغو روغتونونو او د روغتيايي پاملرنې لومړنيو مرکزونو سره د ټروما لپاره د **۸۰۴** عاجل کيټونو بسپنه ترسره شوه چې د پراخو مرګ ژوبلو په عاجلو حالاتو کې د ناروغانو درملنه کوي. هر کيټ يا کڅوړه له **۳۰** تر **۱۰۰** ژوبل شويو کسانو درملنه کوي

د عاجل اقدام توکي، چاروا کيو او افغاني سرې مياشتې ټولنې ته ورکړل شول، چې د هرات له زلزله ځپلو او له پاکستان او ايران څخه راستنېدونکيو کسانو ته په اقدام کې له دوی څخه ملاتړ وشي

له ولايتي روغتيايي چاروا کيو او له افغاني سرې مياشتې ټولنې سره د طبي اکمالاتو بسپنه وشوه چې د خارښت د جلدي ناروغۍ د خپرېدا سنبالنه پرې وکړي

# له آزادۍ د بې برخې شويو کسانو په ګټه فعاليتونه

د ټول هېواد په **۱۹** توقيفځايونو کې د توقيف **۴۹** ليدنې ترسره شوې

**۸** ورکشاپونه، د زندانونو تر **۱۹۰** ډېرو کارمندانو ( لوړ پوړي مشرانو او پيره دارنو) ته د سنبالنې د غوره طريقو او د زندانونو په فعاليت کې له عامو مخامخ شويو ننګونو په برخه کې ترتيب شوي دي

**۱۲،۰۰۰** بنديانو د ټول هېواد په **۱۱** زندانونو کې د خوړو بستې ترلاسه کړې چې د ورځې درې وخته خواړه ورته برابر شي. د عامې روغتيا وزارت استازي او په کابل، مزارشريف، کندهار او هرات ولايتونو کې د **۱۱** زندانونوکارمندانو ته د خوړو د لړۍ د روزنې ناستې ترسره شوې ترڅو د خوړو د سنبالنې لړۍ ته پرې وده ورکړي

په **۱۱** زندانونو کې د پخلنځي اړين توکي او سامان الات ووېشل شول تر څو په توقيفي کسانو کې د خوړو برابر او روغتيا ساتنيز ویش ډاډمن شي

**۱۵،۴۷۶** توقيفي کسانو ته په **۲۵** توقيفځايونو کې کيټونه يا کڅوړې چمتو کړای شوې ترڅو خپلې شخصي روغتياساتنې او دهغې وضعيتونه ته پرې وده ورکړي

د چاروا کو له څار لاندې کابو **۱۸،۰۰۰** توقيفي کسانو په **۲۶** توقيفځايونو کې د يخنۍ کيټونه يا کڅوړې ترلاسه کړې چې د سختې يخنې پر وړاندې يې ساتنه وکړي

تر **۱۳،۰۰۰** ډېرو توقيفي کسانو ته په **۱۵** توقيفځايونو کې تفريحي او ښوونيز توکي ، د لوبو تجهيزات او بسترونه چمتو کړای شول

**۵،۴۹۰** توقيفي کسان په **۷** توقيفځايونو کې د ودانۍ ، اوبو رسولو او روغتياساتنې او د برېښنا د سيستمونو د ترميم او ارتقا له لارې د ژوندانه له ښه وضعيتونو برخمن شوي. پردې سربېره، **۷،۹۲۱** توقيفي کسان په **۳** توقيفځايونو کې د روغتياساتنې او د حفظ و مراقبت د کميټو د بيارامنځته کولو له لارې برخمن شوي

آی سي آر سي د کندهار په سرپوزه توقيفځای کې توقيفي کسانو ته د ژمي اکمالات چمتو کوي



په هرات کې د تغذيې د ازمېښتي پروژې له مخې **۲۶۷** خوارځواکي توقيفي کسان له درملنې برخمن شوي چې په دې کې **۷۴** يې پر منځنۍ حادې خوارځواکۍ او **۱۹۳** يې پر شديدې حادې خوارځواکۍ اخته وه

تر **۹،۰۰۰** پورې توقيفي کسانو د پلچرخي په مرکزي محبس، ننګرهار، هرات او سرپوزه ولايتي محابسو کې د غنمو د وړو او د محابسو نانواياتو ته د نورو موادو د چمتو کولو له لارې باکيفيته ډوډۍ ترلاسه کړې ده

**۲۵** ښځينه توقيفي کسانو ته په سرپوزه ولايتي محبس کې د ګنډلو کيټونه ورکړل شول او په محبس کې د ګنډلو په برخه کې د نوي جوړ شوي ورکشاپ له لارې ورته د ګنډلو او خياطۍ روزنه هم چمتو کړای شوه

د سرپوزې او فراه ولايتي محابسو کلينکونه پر طبي او نورو اکمالاتو سنبال کړای شول

د محابسو له روغتيايي چوپړتياوو څخه د آی سی آر سی د ملاتړ د يوې برخې په توګه په هرات او سرپوزه ولايتي محابسو کې تر **۴،۴۰۰** ډېرو توقيفي کسانو ته **۶۵،۴۸۳** سلامشورې چمتو کړای شوې. ددې چوپړتيا د پلي کولو په برخه کې موږ د عامې روغتيا وزارت ته مالي، لوجستيکي او تخنيکي ملاتړ هم چمتو کړی دی

**۳،۱۲۱** توقيفي کسانو او کوچنيانو په **۳** توقيفځايونو کې د خارښت د جلدي ناروغۍ د خپرېدا پر وړاندې له هغه اقدامه برخمن شول چې د آی سی آر سی لخوا يې ملاتړ کېده

له بېلابېلو ولايتي زندانونو څخه د عامې روغتيا وزارت او د زندانونو چارو د سمون اداري د ګډو څارنيزو ليدنو کتنو په ترڅ کې چې موخه يې د باکيفيته روغتيايي پاملرنې چوپړتياوو ته د توقيفي کسانو له لاسرسي څخه ملاتړ دي، نو ددې په څنګ کې د ولايتي زندانونو روغتيايي کميټو او د زندانونو د روغتيايي فرعي کاري ګروپونو دوره يي ناستو ته يې هم لاره اواره کړې ده. په ګرد هېواد کې **۲۳** توقيفي کسانو د فزيکي بيارغاونې چوپړتياوې ترلاسه کړې دي

دا چې په هرات کې د زلزلو پر مهال په هرات ولايتي محبس کې د توقيفي کسانو او کارمندانو ترمنځ د روغتيايي او روغتياساتنې د خطرونو مخنيوی وشي، نو د طبي او غيرې طبي اکمالاتو او د روغتياساتنې د توکو په څنګ کې موږ يوه خيمه هم چمتو کړه چې د لنډمهاله کلينک په توګه ترې ګټنه وشي

يو هلک د آی سي آر سي د کورنيو اړيکو د بيا ټينګولو د چوپړ له لارې له خپل پلار سره خبرې کوي




## د کورنيو اړيکو ساتنه

د **۲۱۳** لادرکه کسانو پېښې اوارې شوې او د دوی ځای ځايګي معلوم شول

**۸** ټيلي کنفرانس اړيکو ته لار اواری وشو، په ګوانتنامو کې د ساتل کېدونکيو توقيفي کسانو او په افغانستان کې د دوي د کورنيو ترمنځ د سره صليب **۱۳۵** پېغامونه ( چې پکې لنډ کورني معلومات هم شامل دي) تبادله شوي دي

**۱۲۵** د سره صليب پېغامونه او **۷۹** سلامت ( لنډ غږيز پېغامونه) د توقيفي کسانو او د دوی د کورنيو ترمنځ تبادله شوي دي

**۳** تنو د Trace the Face آنلاين چوپړتياوو له لارې له خپلو کورنيو سره اړيکې ټينګې کړې

**۲،۷۷۱** کسانو په افغانستان کې له آی سي آر سي سره اړيکه نيولې چې د خپلو عزيزانو پلټنه وکړي

# د ملکي وګړو خوندیتوب

مورږ د بشرپاله وضعیت څارنې ته تداوم ورکړې او چې کله هم ورته اړتیا وي، نو مورږ له وسله وړونکیو کسانو سره د دوی د چلن په اړه په محرمانه او دوه اړخیزه توګه اندېښنې راپورته کړي چې په دې توګه د خلکو د حقوقو له ناوړه ګټنې مخنیوی وشي

مورږ په بېلابېلو ولایتونو کې له ټولنو سره ښکېل یو، چې د دوی د خوندیتوب اندېښنې په غوره توګه درک کړو او داسې لارې چارې ومومو چې پر دوی باندې بشرپال اغېز رامحدود کړي

# د مړو باعزته سنبالنه

زمورږ د انساني اجسادو د لېږدونې د پروګرام (ایچ آر تي پي) له مخې د افغاني سرې میاشتې ټولنې په ملاتړ، د ٦ کسانو مړي موندل شوي او د دوی کورنیو ته لېږدول شوي او ورسپارل شوي دي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ختیځ، شمال، شمال ختیځ او مرکزي شمال لویدیځ سیمو تر ۸۰ ډېرو کارمندانو او خپلخوبښو د ایچ آر تي پي په یوه ورځنې روزنیزه ناسته کې ګډون کړی دی

---

د عدلي طب له ۱۸zریاستونو څخه تر ۱۰۰ ډېرو ډاکترانو ته د آی سی آر سی په ملاتړ د طبي حقوقي ریاست لخوا پنځه ورځنۍ د عدلي طب تخصصي روزنه ورکړل شوې ده

په هرات او کندهار کې د قانون انفاذ کوونکیو ۵۰ ارګانونو ته د عدلي طب د حساس سازۍ په اړه درې ورځنۍ ناسته تنظیم شوې وه

---

له خوست، غور، هلمند او بامیان ولایتونو د عدلي طب ریاستونو ۴ غړو مالي او تخنیکي ملاتړ ترلاسه کړی ترڅو د کابل له طبي حقوقي ریاست څخه لس ورځنۍ لیدنه ترسره کړي

په پروان ولایت کې له پوځي او ملکي چارواکیو سره په جګړې پورې اړوند د مړو د سنبالښت په اړه یو ګردی میز ترسره شو

---

د ۲۸ عدلي طب ریاستونو له ۲۰۰ کارمندانو سره د معاشونو په برخه کې ملاتړ ترسره شو

د سرې میاشتې ٦ سیمه یزو دفترونو، د کابل طبي حقوقي ریاست او د عدلي طب ۲٦ ریاستونو ته د مړو بوجۍ، شخصي حفاظتي وسایل، ضد عفوني وسایل او د دفتر اکمالات ورکړی شوي دي

---

د کابل طبي حقوقي ریاست او د خوست، هلمند او پروان عدلي طب ریاستونو ته د معلوماتي ټېکنالوژۍ د تجهیزاتو او نور توکو بسپنه ترسره شوې ده

د لښکرګاه په بوست روغتون کې د مړو ۲ یخچالونه ترمیم شول

---

په مزار سیمه یز روغتون، کاپیسا ولایتي روغتون، غزني ولایتي روغتون او د کابل عدلي طب په څانګو کې کاري ساحې ته ارتقا ورکړل شوه



د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالۍ کې خلک له ترمیم شویو لاسي پمپونو څخه اوبه ترلاسه کوي

## له خلکو سره مرسته

**۱۰،۴۴۶** کورنیو (**۸۳،۵۶۸** کسانو) په غزني، لښکرګاه، هرات، فراه، کندهار، کونړ، ننګرهار، کندز، سمنګان، فاریاب، جوزجان او پنجشیر کې څو اړخیزه نغدي مرستې ترلاسه کړي چې خپلې بنسټیزې اړتیاوې پرې پوره کړي

**۳۶۰** کورنیو ( **۳،۳۹۶**کسانو) چې د بشرپاله قانون د ماتېدنې او یا هم د وسلې د ککړتیا له کبله زیانمنې شوې وې، نغدي مرستې ترلاسه کړې تر څو خپلې مالي ستونزې پرې حل کړي

**۲،۴۶۷** کورنۍ (**۱۹،۷۳۶** کسانو) په لغمان، فراه، خوست، کندهار، هلمند، پنجشیر، بغلان، بلخ، هرات او ننګرهار کې د کار په مقابل کې د پیسو د پروژو له لارې عاید ترلاسه کړی او د خلکو د اوبو لګولو زېربنا هم بیاورغول شوه

**۲،۴۹۸** بزګرې کورنۍ (**۱۹،۹۸۴** کسانو) په هرات او فراه کې نغدي مرستې ترلاسه کړې چې خپله ځمکه چمتو کړي او کرنیز اکمالات پرې وپېري

**۱۰۰** بزګرو په کاپیسا کې د کرنې د ریاست په ملتیا د باغدارۍ په برخه کې روزنه او کیټونه ترلاسه کړل ترڅو د خپلو میوو د باغونو ساتنه پرې وکړي

**۲۰۰** بزګر د فراه ولایت په ګلستان کې د سرچینو د سنبالنې او د کرنیزې بېخبنا د حفظ ومراقبت په برخه کې روزنه ترلاسه کړه

**۲۹** کورنیو (**۲۳۲** کسانو) په مزارشریف او کندز کې د سوداګرۍ د مهارت روزنه او نغدي مرستې ترلاسه کړې ترڅو کوچنی کاروباونه پرې پیل کړي

**۹۰۷** امیندواره او شیدې ورکونکیو مېرمنو په کندهار کې د آی سی آر سی لخوا د روزلو شویو ټولنو له لارې د تغذیې پوهاوی ترلاسه کړ. میاشتینۍ نغدي مرسته هم ورسره وشوه چې د مغذي خوړو په پېرودنه او د خوارځواکۍ په مخنیوي کې ورسره مرسته وکړي

د افغانستان برېښنا شرکت ته د **۷۵،۰۰۰** لیټره تیلو ، **۴** ډیزلي جنریټرونو، برېښنایي تجهیزاتو او ټرانسفرمرونو د چمتو کولو له لارې تر یو میلیون څخه ډېرو کسانو دوامداره او ښه برېښنا ترلاسه کړې ده

تر **۶۶۰،۰۰۰** ډېرو خلکو چې په ښاري سیمو کې اوسېږي د څښاک پاکو اوبو ته یې لاسرسی ومونډ، چې نوې جوړې شوې زېربنا ته به پاملرنه کوي

تر **۳۹۰،۰۰۰** ډېرو خلکو چې په ښاري سیمو کې اوسېږي د **۲،۰۰۰** ترمیم شویو لاسي پمپونو، د ښاري اوبو د **۳** شبکو او **۲۱۹**بایو سینډ فلټرونو له لارې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی دی

په هرات کې تر زلزلې وروسته، موږ د اوبو رسولو له دولتي شرکت سره مرسته وکړه چې په هرات ښار او قلعه نو کې د اوبو شبکې ترمیم کړي

# له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره ګډ کار

## له سرې میاشتې سره شوې بسپنې

د سرې میاشتې له لویدیځې څانګې سره د زلزله ځپلو لپاره د **۵،۰۰۰** کمپلو او **۲،۰۰۰** پتوانو بسپنه وشوه

---

د سرې میاشتې **۲۸** د روغتیایي پاملرنې بنسټیزو مرکزونو ته، کارولو ته چمتو درملیز خواړه (RUTF) چمتو شول ترڅو د ناروغانو تغذیه پرې ښه شي

---

د سرې میاشتې **۴۶** د روغتیایي پاملرنې بنسټیزو مرکزونو ته انتروپومیټریک مواد، غیرې طبي تجهیزات او د راپور ورکولو وسایل ورکړل شول

---

د سرې میاشتې د شمالي څانګې تر واک لاندې **۱۰** بنسټیزو روغتیایي مرکزونو ته د انتان د وقایې او کنټرول مواد ورکړل شول

---

له سرې میاشتې سره د **۴۰** موټر سایکلونو بسپنه وشوه چې د سرې میاشتې په بنسټیزو روغتیایي مرکزونو کې د واکسینو له ترسره کولو څخه ملاتړ وشي

---

مالي مرسته چمتو شوه چې د **۱۰۵** کارمندانو معاشونه، د **۴۲** دفترونو جاري لګښتونو او کوچني بیارغاونیزې پروژې پرې راونغاړل شي

---

د سرې میاشتې له مرکزي دفتر سره د **۲۵۰** مخابرو سیټونو بسپنه وشوه ترڅو  امنیتي سنبالښت او د مخابرې د اړیکو سیستم ته پرې وده ورکړي

---

د **۳۲** موټرو، پرزه جاتو او ټیرونو بسپنه وشوه چې د سرې میاشتې له عملیاتي اقدام څخه ملاتړ وشي

---

د **۹** لپ ټاپونو، تلویزون، او معلوماتي ټیکنالوژۍ د تجهیزاتو بسپنه وشوه

---

**۳۰،۰۰۰** معیاري یونیفورمونه تولید شول چې د عملیاتو پر مهال به یې د سرې میاشتې کارمندان او خپلخوښي کاروي

## ګډې پروژې

د سرې میاشتې له لویدیځ، شمال او شمال ختیځو سیمو سره **۱۲** ګډې پروژې پلي شوې ترڅو د څو اړخیزه نغدو پیسو د مرستې له لارې له زیانمنو کورنیو سره مرسته وشي او کوچني بزګران وتوانېږي چې پیسې د کار په مقابل د پروګرام له لارې د خپل معیشت ساتنه وکړي.

---

## وړتیا جوړونه

د سرې میاشتې له ټولو څانګو ( لویدیځ، شمال، او شمال ختیځو سیمو) څخه **۱۰۲** ګډون کوونکیو او له آی سی آر سی څخه ۳ ګډون کوونکیو د پروژې د سنبالنې او مرستندویه اقدام د پلي کولو په برخه کې کورس بشپړ کړ

---

د سرې میاشتې **۳۱۶** کلینکي او سنبالیز یا مدیریتي کارمندانو او د ټولنې **۲۴۰** غړو د روغتیایي پاملرنې د خوندیتوب او درناوي په اړه د پوهاوي په ناستو کې ګډون وکړ

---

د سرې میاشتې **۳۳۲** کلینکي کارمندانو مالي او تخنیکي ملاتړ ترلاسه کړ ترڅو په ګڼو روزنیزو ناستو کې ګډون وکړي




د هرات په زنده جان سیمه کې یو کس د زلزلې پرمهال د خپل ویجاړ شوي کور لیدنه کوي

د سرې میاشتې له کلینکي کارمندانو سره په **۷** زونونو کې د آی سي آر سي په مالي او تخنیکي ملاتړ، **۵۲** تخنیکي ناستې ترتیب او تنظیم شوې دي

د سرې میاشتې **۶۵۱** کارمندانو او خپلخوښو د خوندي لاسرسي د کارچوکاټ په برخه کې روزنه ترلاسه کړه، ترڅو خپل لاسرسي، امنیت او منلتیا ته پرې وده ورکړي

د سرې میاشتې د خوندي لاسرسي د کارچوکاټ **۱۴** روزنکیو د روزنکیو د روزنې په ناسته کې ګډون وکړ

د سرې میاشتې د خوندیتوب او امنیت **۴۷** کارمندانو ته د امنیتي خطر د سنبالنې په برخه کې روزنه ورکړل شوه

د سرې میاشتې د خوندیتوب او امنیت د کارمندانو لخوا د سیمه یزو دفترونو او څانګو **۱۷** امنیتي ارزونې ترسره شوې

د سرې میاشتې **۱۰۵** کارمندانو د سرې میاشتې او ای سي آر سي د ملتیا په اړه په ۷ لارښوونیزو ورکشاپونو کې ګډون وکړ

## د وسلې ککړتیا ته رسیدګي کول

د آی سي آر سي د وسلو د ککړتیا پروګرام **۶** فوکل پواینټونو او د سرې میاشتې ٦ کارمندانو د خطر د پوهاوي او خوندي چلن او د کارمندانو د خوندیتوب لپاره د روزنکیو د روزنې په پروګرام کې ګډون وکړ

د سرې میاشتې **۶۰** کارمندانو د خطر د پوهاوي او خوندي چلن په اړه روزنه ترلاسه کړه

د سرې میاشتې **۲۰۷** کارمندانو او د آی سي آر سي **۱۶۰** کارمندانو د خوندیتوب روزنه ترلاسه کړه

د وسله د ککړتیا د پېښو په اړه **۴۰۰** راپورونه راټول شوي دي

## د نړیوال بشرپاله حقوقو دودوالی

د سرې میاشتې مشرتابه او حقوقي سلاکار ته د سره صلیب او سرې میاشتې نښانونو د کارولو او د ملي ټولنې د وضعیت د تنظیمولو د نوي قانون په اړه حقوقي سلا مشوره ورکړل شوه

د کورنیو چارو وزارت **۸۱۹** کارمندانو د بشر د حقوقو د نړیوال قانون، د قانونو د پلي کېدا لپاره د ځواک کارېدنه او د آی سي آر سي په تړاو په ناستو کې ګډون وکړ

## عملیاتي اړیکې او د ټولنې شکېلتیا

**۴،۳۱۸** د ټولنې مشرانو او غړو د عملیاتي اړیکې او د ټولنې د ښکېلتیا په **۱۵۰** ناستو کې ګډون وکړ

**۷۶۴** مذهبي او د ټولنې مشرانو او د آی سي آر سي اړیکه نیوونکیو په **۲۴** روزنه ماتو کې ګډون وکړ چې د روزې په میاشت کې په ټول هېواد کې د آی سي آر سي په ګڼو دفترونو کې ترسره شوې وې


**د لا زیاتو معلوماتو لپاره:**
**kabul@icrc.org**


**د کابل مرکزي نمایندګي**
۱۵ سړک، ۱ کوڅه، ۴ کور
وزیر اکبر خان، کابل

اړیکشمېره:۰۷۹۹۵۵۰۰۵۵
ایمیل: kabul@icrc.org
www.icrc.org


آی سي آر سي، جنوري ۲۰۲۴

ICRC




facebook.com/ICRCaf
twitter.com/ICRC_af
instagram.com/icrc

د پښتي انځور: حبیب الله قادري / آی سي آر سي